سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰٤/۳۰

# دا مونږ څنګه ملت یو؟

که د تاریخ پاڼو ته نظر واچوو او و غواړو چې د افغان ملت د هویت او موجودیت په هکله معلومات تر د لاسه کړو، نو بیا مونږد دنیا د هغو ملتونو په قطار کې ودریږو چې د زرګونو کالونو نه را پدې خوا یې په همدې جغرافیه کې ژوند کړی او تشکل یې میندلی دی. دی ملت د انسانی تمدن په برخه کې درنه ونډه لرلی، له همدی خاوری یې نوری نړۍ ته د تمدن او پرمختګ طریقې او لاری چاری ور نقل کړیدی او د شرق او غرب د لرغونی تمدن د اتصال نقطه د همدی ملت کور یاد شویدی. د بلخ لرغونی ښار یې د ښارونو د مور ( اُم البلاد) لقب ګټلی، د لویو وضعی او شعوری ادیانو مرکزاو د نړی د مشهورو پوهانو او عالمانو د زیږیدو ټاټوبی پیژندل شویدی. غزنی. هرات، بامیان، بُست، اراکوزیا او ګندهارا میرزکه او نوری برخی یی د تمدن او انسانی پرمختګ لوی لوی مرکزونه یاد شوی. که په اختصار سره د دی تاریخی اثارو په رڼا کی د دی ملت جغرافیه را وڅیړو نو بی له شکه به دا ومنو چې هره لویشت خاوره یی ځانګړی ویاړونه او د بشری تاریخ په جوړیدو کی جدا او لوړ ځای لری.

که دزاړه تاریخ نه تیرشو او په معاصر تاریخ کی د دی ملت هغه ستری تاریخی ویاړنی اوبریالیتوبونه چې د نړیوال استبداد په مقابله کی یی تر د لاسه کړیدی، له نظره تیر کړو نو بیا هم دا ملت د هغو ملتونو په لومړی صف کی قرار لری چې د استعماری لویو طاقتونو په وړاندی په تش لاس داسی زړوره مبارزه کړیده چې نمونه به یی په نړۍ کی یا نه وی او یا به هم کمی وی. همدا ملت و چې د نړۍ د وخت تر ټولو ستر استعماری قوت انګریز ته چې لمر یی په امپراطوری کی نه پریوته دری کرته داسی ماتی ورکړیده چې په نوره دنیا کی دا قوت ور سره نه دی مخامخ شوی. د همدی ملت مقاومت او مبارزه وه چې د منځنی آسیا ټول هیوادونه یی د انګریزی تسلط نه وژغورل او د هند د نیمی قاری له حدودو نه یی د شمال په لوری د دوی د پرمختګ مخه و نیوله.

په همدا لنډ پرون کی بیا هم همدا ملت و چې د شمال له لوری د را خوزیدلی کمونیستی ښامار خوله یی له خاورو ډکه کړه او د هند نیمه لویه وچه یی د هغه له خوړلو او زبیښلو څخه وژغورله، مبارزه یی وکړه، په ملیونونو انسانی تلفات یی ور کړل، ټوله خاوره یی د اور په لمبو کی وسوځیده او دومره سترو تخریباتو سره مخ شو چې بیا به یی هم شاید په نړۍ کی مثالونه یا نه وی او یا به کم وی.

خو! اساسي پوښتنه اوس داده چې دا دومره عظیم او باتور ملت، دا دومره ویاړمن اود نړیوال اعتبار لرونکی ستر ملت ولی نن دومره خوار، بی بخته، فقیر، نادار او له کړاونو او دردونو سره مخ هیواد جوړشو چی بیایی هم په نړۍ کی د ساری پیدا کیدل اسان نه ښکاری؟؟

زه نه غواړم چی د دی ټولو بدمرغیو په هکله خبری وکړم ځکه چی د ټولو لاملونو څیړل د یوی مقالی څه چی د څو کتابونو د حوصلی هم ممکن بیرون وی، خو صرف یوی موضوع ته چی زما له نظره د ټولو نه زیاته په دی خواشنیوکی برخه لری په ډیره لنډه توګه اشاره کوم او هغه ده د افغانانوترمنځ «بی اتفاقی او بی اعتمادی».

بی اتفاقی یوه ناجوړی ده چی د ټول بشریت په لوی کورکی د لویو ټولنو نه رانیولی بیا تر د وړو کورنیو پوری وجود لری او انسان نه پریدی چی په سمه او معقوله توګه د خپلو نیمګړتیاوو په پوره کیدلو کی سره په یو لاس او یوه نظر کار وکړی. زمونږ ملت هم د دی ناروغی نه هیڅکله په امن کی نه دی پاتی شوی خو د ثور له کودتا او په خاصه توګه د روسانو له وسله وال تیری را وروسته چی زمونږ وطنوال نورو هغه ملکونو ته چی لا د پخوا نه یی له مونږ سره تاریخی دښمنی او بدبینی لرلی مهاجر شول. نو زمونږ د ملت د بیلوبیلو قومونو تر منځ او د بیلوبیلو مذهبونو، سمتونو او ژبو د ویونکو تر منځ دا د بی اتفاقی ناروغی او د بی اعتمادی روحیه څو چنده نوره هم زیاته او پیاوړی شوه. او هغه هم په دی توګه:

روسانو له هر چا نه د مخه ددی ناروغی تکثر ته لمنه و وهله او د لمړی وار د پاره یی د «ملیت» د کلمی اصطلاح د «قوم» پرځای زمونږ فرهنګ ته را داخله کړه او په دولتی چوکاټ کی یی د ملیتونو په نوم یوه اداره هم جوړه کړه. د دی اداری لویه وظیفه همدا وه چی د اقلیتونو د حقوقو د تامین په نوم په افغانستان کی واړه قومونه د لویو قومونو په وړاندی را ولمسوی او په دی توګه و کولی شی چی په راتلونکی کی ( احیاناً د ماتی خوړولو نه وروسته) د هیواد شمالی برخه د خپلی مستقیمی اداری لاندی و ساتلی شی. روسانو د همدی منظور د پاره د ډاکتر نجیب الله د واکمنی په وروستیو کی د هیواد په شمال کی یوه مستقله اداره جوړه کړه او ډاکتر نجیب الله مسیر یی د شمال صفحاتو د پاره د صدراعظم په توګه مقرر کړ.

د دی سره سم یی خپلو کمونیستی ایالتونو لکه تاجکستان، ازبیکستان، ترکمنستان او نورو ته هم پلانی وظیفه ورکړه چی په افغانستان کی دی توکمونو ته د هرډول مرستو رسولونه ډه ډه و نه کړی او که چیری مرکزی حکومت د دوی له لاسه خارج شی نو باید شمالی افغانستان د دوی د قبضی نه و نه وزی.

د دی سره سم ایران ته مهاجر شوی افغانان چی په مجموع کی د شُعیه مذهب پیروان وو او په قومی جوړښت کی یی لویه برخه د هزاره افغان قوم پوری تړلی وو، دی ته و هڅول شول چی د افغانستان په راتلونکی اداری نظام کی یا موثره ونډه ولری اویا باید د افغانستان په دننه کی لومړی په فدرالی بڼه او بیا وروسته د مستقل دولت په څیرځانګړی تشکل ولری.

همدارنګه د پاکستان دولت چی د خپل جوړښت نه تر ننه پوری د افغانانو سره تربل هر چا نه زیاته بدبینی او دښمنی لری او د پښتون قوم لویه برخه یی د کنترول لاندی ده، په دی تکل کی شول چی د افغانستان پښتانه هم د خپلی جغرافیی یوه برخه جوړه کړی نو د جهادی مشرانو تر منځ یی د بدبینی او بی اعتمادی اور ته لمن و وهله. په ټول

افغانستان کی د گلبدین حکمتیار(پښتون) د حزب اسلامی او د پروفیسور برهان الدین ربانی (تاجیک)د وسله والو تر منځ دومره مرگ ژوبله پېښه کړه چی تر اوسه لا هم روانه ده. ربانی سره داسی وعده شوی وه چی د افغانستان د شمال د برخی کنترول به ستا د ډلی وی او د جنوب برخه به د حکمتیار په واک کی وی او دواړه به د پاکستان سره یو ایتلافی اداره کی شامل وی. ( د موضوع جزئییات تو ته دلته گنجایش نشته) خو دومره باید و ویل شی چی دی دواړو عمده ډلو د پاکستان دا طرحه همداسی منلی وه لکه مزاری، کریم خلیلی، محقق او نورو چی د ایران سره منلی وه، لکه کشتمند، مسعود او ربانی چی د شوروی سره منلی وه او لکه دوستم چی د ازبیکستان اشاری ته تیار سی و لاړ و.

د همدی موافقو او فیصلو له مخی و چی جنرال مشرف د افغانستان د پښتنو د حقوقو نه دفاع خپل حق و گانه، د تاجکستان نیمه ازاد دولت د تاجیکانو د حقوقو، د ازبکستان روس پلوه دولت د افغان ازبکانو، د ترکمنستان شوروی پلوه دولت د افغان ترکمنانو، دایران اخوندی دولت د افغان هزاره گانو او په مجموع کی د فارسی (دری) ژبی د ویونکو، سعودی عرب د افغان وهابیانو او بلاخره د ترکی دولت د ټولو ترک تبارو افغانانو د حقوقو نه خپل ملاتړ اعلان کړ او د افغانستان په دننه کی د افغان قومونو تر منځ د گرمی مبارزی میدان داسی گرم کړلو چی تاو یی ټول افغانستان و سیزه او لا هم دا سوځیدل ادامه لری. تر ټولو عجیبه لا داده چی د روس دولت د پوتین تر مشرتابه لاندی اوس هم په هغه افغانستان کی چی د ټولو بدمرغیو زمه وار همدا دروس دولت دی ، په افغانستان کی د اقلیتونو د حقوقو د رعایت اوهغی ته د درناوی خبری کوی او زمونږ یو شمیر لوستی او د نظر خاوندان افغان روشنفکران ورسره د مننی سر خوزوی.

اوس نو زه په رښتیا سره په دی نه پوهیږم چی دا مونږ ښنکه یو ملت یو او تر کومه به همداسی یو، چی د دومره ناخوالو،غمونو، کړاوونو او دردونو وروسته لاهم نه دوست پیژنو او نه دښمن؟؟ یا الله (ج) خیر.